منتظر الزيدي
ژباړه او لنډون: فرهاد وياړ


## زه آزاد شوم خو وطن مې لا په اسارت کې دی

د مهربان او بخښونکي خدای په نامه،

لومړی له هغو ټولو کسانو څخه چې زما په هیواد، په لوي عربي هيواد، په اسلامي نړۍ او آزاده نړۍ کې له ما ملاتړ وکړ، مننه او تشکر کوم. زما د عمل او د هغه چا په اړه چې زما د بوټانو نښه وه، د قهرمان او د هغه د قهرمانانه عمل او د دې نماد او نمادين عمل په اړه ډيرې خبرې شوي دي.

خو زه ډير ساده ځواب لرم: څه چې زه يې ته ولمسولم، هغه ظلم او بيعدالتي ده چې زما د هيواد پر ولس کيږي او دا چې څنګه نيواکګرو وغوښتل زما وطن د خپلو موزو تر لاندي سپك کړي. همدا ډول د نيواکګر ځواك لخوا هغه شرايط چې په کې د هيواد د ټولو اولادونو، له سپين ږيرو تر ميرمنو، او د ماشومان او نارينه وو ککرې يې غوښتلي د خپلو موزو تر لاندي ماتي کړي، زه يې کار ته وهڅولم. په څو تيروکلونو کې د نيواکګرو د مرکيو تر لاندې څه باندې يوميليون شهيدان پر خاوره ولېدل او زمونږ هيواد اوس څه باندې ۵ میلیونه يتيمان، يو ميليون کونډې او سلګونه زره معلولين لري او ميليونونه تنه نور د هيواد دننه او بهر د اجباري کډوالي له امله په بې کورۍ کې ژوند کوي.

مونږ داسي يو ملت و چې عرب خپله ورځني ډوډۍ د کُردانو، ترکمنانو، آشوريانو، صابئيانو او يزيديانو سره ويشله. شيعيانو د سنيانو سره يوځای لمونځ کاوه او مسلمانانو د مسيح عليه السلام ميلاد د مسيحيانو سره يوځای جشن نيوه؛ دا هم په هغو شرايطو کې چې مونږ ټولو د امريکا د تحريمونو له کبله څه باندې ۱۰ کاله، ولږه زغمله.

زمونږ زغم او يووالي لامل کيده چې استبداد هير کړو. د آزادی په توهم سره چې ځينو هم ورباندې باور وکړ، زمونږ پر هيواد يې تيری وکړ. د نيواك سره، ورور د ورور په مقابل کې ودريد، ګاونډی د ګاونډي په مقابل کې او زامن د ترونو په مقابل کې. نيواك زمونږ کورونه د تشييع او د وير د مراسم په خيمو بدل کړل. زمونږ پارکونه او د واټونو څنډې په هديرو بدلې شوې....

اعتراف کوم چې زه يو قهرمان نه يم. خو يو ليدلوري لرم او د اند څښتن يم. زه د خپل هيواد د سپکاوي او په اور کې پروت بغداد په ليدو سره تحقير شوم. زمونږ خلك وژل کيږي او د دې دردونو او غمونو زرګونو انځورونو مې ذهن ډك کړی دی او پر ما فشار راوړي او ما مقاومت، د بې عدالتۍ، درواغو او ټګی ځپلو ته لمسوي. خوب پر ما حرام شوی و.



د وژني لسګونه بلکې سل ګونه انځورونه چې د کوچني ماشوم ویښته هم سپینوي، زما اوښکې توی کړې او زه یې سخت وځورولم. لکه د ابوغریب افتضاح، د فلوجه، نجف، حدیثه، مدینه الصدر، بصره، دیالي، موصل، تلعفر او زما د ټپي ټاټوبې په هرې ولشتې کې وژنه. په تیرو کلونو کې د خپل ټپي هیواد څلورو ګوټونو ته مې سفر وکړ او په خپلو سترګو مې د قربانیانو درد ولید او په غوږونو مې د دردجنو او یتیمانو فریادونه واوریدل. او له دې کبله چې قدرت مې نه درلود، وجود مې د شرم له احساس څخه ډك شو.

د خپلې ورځنې کار له پای څخه وروسته چې د عراقیانو په ضد د ورځني فجایعو څخه راپور چمتو کول وو په ترڅ کې مې د عراقیانو رنګ شوي کورونه لیدلي وو، د قربانیانو د وینې رټې مې د خپلو جامو څخه پاکولې او غاښونه مې یو له بل سره نښلیدل او قربانیانو ته مې قول ورکړ او لوړه مې وکړه چې غچ به یې اخلم.

فرصت لاس ته راغی او ما له هغې استفاده وکړه.
د ټولو هغو بې ګناه وو د هر څاڅکي وینې چې نیواکګرو تویه کړی ده او د هر ویرجنې مور د هرې کوکارې او د یتیم ماشوم د هرې سلګی، د جنسي تیري د قرباني د هر غم او درد او د هر یتیم اوښکو ته د درناوي لپاره ما له دې فرصت څخه استفاده وکړه.

له هغو کسان چې زما پر دې کار نیوکه لري پوښتنه کوم، چې آیا پوهیږی چې په هغو بوټانو سره مې له څو ویجاړو کورونو څخه چې د نیواك له کبله رنګ شوي وو، لیدنه کړی؟ ایا پوهیږی چې هغه بوټان څو وارې د بې ګناه قربانیانو پر وینې تللی دی؟ آیا پوهیږی چې څو وارې هغه بوټان هغو کورونو ته ننوتلی چې عراقي میرمنو آزادي، سپیڅلتیا او حرمت باندې تیری شوی دی؟ اوس چې پر ټولو ارزښتونو تیری شوی دی، دا بوټان شاید، وړ ځواب و.

کله چې مې بوټان د جنایتکار بوش پر سر غوځار کړل، غوښتل مې د هغې د درواغ د منلو څخه خپله سرغړونه، د هغه په لاس د خپل هیواد د نیواك او د هغه لخوا د خپل ولس د وژنې په اړه خپله کرکه څرګنده کړم. همدا ډول مې غوښتل د خپل هیواد د سرچینو د لوټلو، د ټولو جوړښتونو د نابودۍ او د اولادونو د آواره کیدو او په زوره جلاوطن کولو څخه خپله کرکه هغه ته وښییم.



له شپږ کالو سپکاوي، بې حرمتي، وژنې او پر مقدساتو باندې د تيري او عبادتځايونو ته د بې احترامي وروسته، قاتل راغلی و چې د دموکراسۍ د بريا په اړه خپله ستاينه وکړي او وياړن شي. هغه راغلی و چې د خپلو قربانيانو سره وداع وکړي او په مقابل کې يې تمه لرله چې ورته ګلونه ورکړل شي.

ډيره ساده، دا نيواکګر او د هغه ټولو ملګرو ته زما ګل و، څه د درواغو د خپرولو او څه هم د هغوې د کړنو لپاره. څه د نيواك مخکې او څه هم وروسته.

ما غوښتل د خپلې حرفې د شرف او اعتبار او له هغه هيواد پالنې دفاع وکړم چې د هيواد د نيواك له لومړي ورځ څخه تر تيري لاندې راغلی او بې حرمتي شوي او ځپل شوی و. ځينې وايي چې ما ولې په مطبوعاتي کنفرانس کې له بوش څخه يوه سخته پوښتنه ونکړه چې د هغه د شرم سبب شوی وی؟ او اوس زه تاسو ورځپاڼه ليکونکو ته ځواب درکوم چې څرنګه مې کولای شول له هغې پوښتنه وکړم، په داسې حال کې چې دمخه يې دستور ورکړی و چې نبايد پوښتنه وشي او يوازې بايد د کنفرانس راپور ورکړل شي. له بوش څخه پوښتنه د ټولو لپاره ممنوع وه.

له حرفه اي اړخه بايد ووايم چې حرفه او دنده هم د نيواك په لاس کې اسيره ده، د هيواد پالنې غږ تر ټولو اوچت غږ دی... او که هيوادپالنه شونډې خلاصې کړي، نو حرفه ګري هم بايد د هغې سره همغږي شي.

ما له دې فرصت څخه استفاده وکړه. که ما چيرې په ناپوهې سره د دندې د محدوديتونو له امله، خبريالان مقصر ګڼلي دي، دليل يې حرفه اي خنډونه وو چې د قدرت صاحبانو په حرفې کې رامنځته کړي دي. زه د هغو محظوراتو له امله چې احتمالا هغوې تاسو ته جوړ کړي دي، له تاسو بخښنه غواړم. يوازېنې کار چې ما يې هوډ لرو وکړم، د هغه ويښ وجدان هستوګن د احساساتو بيان و چې له هيواد سره يې بې حرمتي شوی ده.

....

هغه وخت، د عراق لومړي وزير په يوې تلويزيوني سپوږمکۍ خپروني کې وويل چې يوه شپه هم زما د روغتيا له خبريدو پرته او په دې ډاډ سره چې زه توشك او بړسته لرم يا نه، نه بيده کيږي. په داسې حال کې چې د هغه د خبرو سره سم يې زه په وحشيانه ډول شکنجه کولم: الکتروکي شوك يې راکاوه، په دره يا کيبل د اوسپنيزو ميلو سره يې وهلم. او دا شکنجه د هغه ځای په شاتنې انګړ کې تر سره کيده چيرې چې مطبوعاتي کنفرانس جوړيده.

مطبوعاتي کنفرانس به ادامه لرله او ما د ګډونوالو غږ اوریدو. او شاید هغوی هم زما فریادونه او چیغې اوریدلي وي.

....

له دې کار څخه زما انګیزه، په تاریخ کې د نوم ثبتول یا شتمني نه ده. یوازې مې غوښتل د خپل هیواد څخه دفاع وکړم او دا هغه مشروع آرمان دی چې نړیوالو قوانینو او همدا ډول الهي حقوقو تایید کړی دی. ما غوښتل د خپل هغه هیواد څخه دفاع وکړم چې د لرغوني تمدن سره یې د بی حرمتی سره مخامخ شوی و او داده یم چې تاریخ په ځانګړي توګه د امریکا تاریخ به دا ثبت کړي چې څرنګه امریکایي نیواکګرو وکړای شول عراق او عراقیان د انقیاد تر کچې پورې وځپي.

... مونږ هغه خلك یو چې مرو خو سپکاوی او ذلت نه منو.

د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر ۱۴